


# د وطن د مور اولاد

مسلمان که مې دی سپین د دواړو سترګو

نو هندو مې دې د دوو سترګو تور

د سني او دشیعه توپیر مې نه موند

ټول جهان مې پسې وکوت کور په کور

هزاره، ترکمن، بلوڅ، پشتون اوزبک

پنځه ګوتې؛ د یو لاس دي د سوک زور

پشه یي، نورستاني او قزلباش هم

دي زامن د افغان پلار، افغانې مور

په جملو او کلمو کله بيلېږي؟

ده پښتو د دري ژبې سکه خور

د تاريخ د معلم نوی سبق دادی:

چې پرون دې وو تربور، نن د دی ورو

که مې وينه په رګو کې پښتنه ده

هر تاجيک ګڼمه خپل سکنې ورور

د وطن د مور اولاد يوو بې توپېره

يو مو ژوند دی، يو مو مرګ او يو مو ګور

دښمنان مو بيلوي او جنګوي تل

د تاريخ لاس به يې مخ کړي ورته تور

شاعر اسدالله زمری

ترتيب کوونکی: انجنير عبدالقادر مسعود




# ارزي

یوه شېبه د یار په غېږه کې خوب

ښه خوږ په سل ځلې مرګونه ارزي

له موسکو شونډو نه یې خیال کې بوسه

د شوکرانو په جامونو ارزي

د تنګې خولې د خندا یو لیدل یې

د ټول جهان په سرو ګلونو ارزي

خوږې خبرې او د غږ سرود یې

په ترانو ، نغمو ، شعرونو ارزي

د خوب شپو کې یې د وصال تصور

د ورک فردوس په لذتونو ارزي

د صدفي غاښو یوه برېښنا یې

د (کوه نور) په خرواړونو ارزي

د شوخ نظر ویشتل یې نیغ په نیغه

د یوه میېن لښکر په زړونو ارزي

د کوږ اوربل د وېښتو هر یو ول یې

د سمندرو په موجونو ارزي

د بې همتا ښکلا په مخکې یې زمری

لکه ماښو پروت په اورونو ارزي

شاعر اسدالله زمری

ترتیب کوونکی: انجنیرعبدالقادرمسعود